# کله چې ستاسو څخه يو څوک په خپلې ګېډه کې څه شی ومومي او په دې پوه نه شي چې ایا څه ترې ووتل که نه، نو تر هغه دې له جومات څخه نه وځي تر څو چې غږ واوري او یا باد بوي ومومي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «کله چې ستاسو څخه يو څوک په خپلې ګېډه کې څه شی ومومي او په دې پوه نه شي چې ایا څه ترې ووتل که نه، نو تر هغه دې له جومات څخه نه وځي تر څو چې غږ واوري او یا باد بوي ومومي».
[صحيح] [مسلم روايت کړی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې کله د لمونځ کوونکي په ګېډه کې څه شی ښکته پورته شي، نو دی پوه نه شي چې آیا څه ترې ووتل که نه ؟ نو د دې لپاره چې بیا اودس وکړي لمونځ دې تر هغه پورې نه پرې کوي تر څو له اودس ماتوونکي لامل څخه ډاډمن شي؛ داسې چې يا د باد غږ واوري، یا بوی حس کړي؛ ځکه چې یقیني شی په شک سره نه باطلیږي، پداسې حال کې چې د ده طهارت یقیني دی او اودس ماتېدل يې مشکوک حالت دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65083

النجاة الخيرية ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee